عبدالباری جهانی ۲۰۲۳/۱۱/۲۷

# په افغانستان کي اساسي قانون او قوانين
## (د منشي سلطان محمد د کتاب تلخيص او ترجمه)
(دوهمه برخه)

The Constitution and Laws of Afghanistan
Mir Munshi Sultan Mohammad Khan, F.R.G.S

منشي سلطان محمدليکي: د امير عبدالرحمن خان اجرأييه مقامات، په سر کي، د کابيني هيأت لري. دا له عمومي اسامبلی څخه، چي دربار عام بلل کيږي، بيل دی. دغه وړوکی هيأت خلوت يا دربار خاص بلل کيږي چي هغه خصوصي او محرمي غونډي کوي. دا د انګلستان د پخواينو پاچاهانو پر طرز جوړ سوی هيأت دی او د شرقي او غربي قوانينو يو په زړه پوري مخلوط دی. منشی سلطان محمدليکي چي د اينګليڼد د ځينو کسانو دا عقيده صحيح نه ده چي وايی د افغانستان امير او د شرق نور پاچاهان اصلاً سلاکاران نه لري. زه په دې عقيده يم چي د شرق پاچاهان د غرب تر پاچاهانو لا په زياته پيمانه د خپلو سلاکارانو تر نفوذ لاندي دي. دا خبره بيخي حقيقت لري چي د شرقي پاچاهانو خبره د قانون حيثيت لري او وزيران يي هغه ردولای نه سي مګر خبره دا ده چي شرقي پاچاهان د خپلو مامورينو او نوکرانو څخه اطلاعات ترلاسه کوي او د هغو اطلاعاتو په اساس فيصله کوي.
منشي وايی په عمومي دربار کي دوه ډوله مقامات برخه لري. يوه برخه هغه کسان دي چي د پاچا په اداره کي مقام او چوکی لري او دا په خصوصي سلاکارانو کي راځي. دوهمه برخه يي سرداران او خانان دي چي هغوی کومه چوکی او مقام نه لري. وروسته نو د مقاماتو هغه کوچنی حلقه يا خاصه اسامبلی يا کابينه له هغو کسانو څخه انتخابيږي چي په حکومت کي وظايف لري. لکه څرنګه چي د انګلستان په دربار کي هر وزير د پاچا شخصي سلاکار دی دغه راز د امير په عام دربار کي هم وزيران د خاصو سالاکارانو حيثيت لري او دا هغه کسان دي چي پاچا يي د خپل اعتماد په اساس انتخابوي.
منشي ليکي چي کله کله په خاصه شورا کي هم ځينو وزيرانو ته برخه نه ورکوله کيږي او دی داسي په لس هاوو مثالونه لري چي ځينو مقاماتو شکايت کړی دی چي په خاصه شورا کي برخه نه ده ورکړه سوی مګر امير شخصاً ورته ليکلي دي چي شکايت دي بيځايه دی. منشي وايی د امير دغه ډول اجرآت هم بالکل د انګلستان اجرآتو ته ورته دي.
منشي ليکي چي د امير کابينه د انګلستان له کابيني څخه ځکه توپير لري چي امير صدراعظم نه لري او تر څو چي د کابيني له کوم غړي څخه د مشورې غوښتنه سوې نه وي هغه نه سی کولای چي امير ته مشوره ورکړي. خو خبره دا ده چي د انګلستان پاچا ځکه صدراعظم وټاکی چي کله به په سفر کي وو او د کابيني غونډي بايد يوه چا اداره کړي وای. مګر امير هر وخت په کابينه کي حاضر وي يا په بل عبارت که امير نه وي کابينه نسته. دغه علت دی چي د انګلستان کابينه د امير له کابيني سره توپير لري.PP 66-69
منشي وايی کله چي موږ د يوه هيواد د قوانينو او مقرراتو په باب قضاوت کوو نو بايد چي د هغه هيواد اجتماعي او کلتوري شرايط په نظر کي ولرو. د مثال په ډول که په يوه غربي هيواد کي څوک کليسا ته ننوزي او خپله خولی ليري نه کړي او ضمناً بوټونه وباسي نو خلک به د لبوني په سترګه ورته ګوري خو که څوک په يوه اسلامي هيواد کي له بوټونو سره جومات ته ننوزي خلک به يي وډبوي. منشی وايی ليپيل ګريفين، چي امير يي تر بل هر چا ښه پيژندلی، وو ليکي چي که امير عبدالرحمن خان په خپل هيواد کي د حکومت په چلولو کي له سختی څخه کار اخلي علت يي دا دی چي هغه پر دغه ډول سرکښو او سرزورو خلکو باندي حکومت کوي. يا د ليپيل ګريپين په اصطلاح « که امير له اوسپنيز لاس څخه کار اخلي علت يي دا دی چي هغه پر اوسپنيز اولس باندي حکومت کوي» منشي وايی امير چي هر څه کوي د خپل شخصي قضاوت او د ده په فکر د خپلو خلکو په خير حرکت کوي. منشي د يوه غربي سياح له قوله چي امير يي ليدلی او ښه پيژندلی دی ليکي چي د امير په باره کي دا يوه خبره بايد ومنو چي


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

هغه ډېر زيات وطن پرست دی او چي هر څه کوي، که څه هم چي موږ غربيانو ته به مناسب نه ښکاري، هغه هر وخت د خپلو خلکو او هيواد خير او ګټه په نظر کي نيولي ده.

منشي ليکي چي په اداره او قضا کي د امير صلاحيتونه د اينګلينډ د باچا صلاحيتونو ته ورته دي. لکه ملکه چي د اينګليند مذهبي مشره منله سوې ده دغه راز امير هم په افغانستان کي د اسلامي چارو د مشر په حيث منل سوی دی. لکه ملکه چي د قضايي اداري مشره ده امير هم د افغانستان د قضا مشر دی. لکه ملکه چي د اينګلينډ د اجراييه قوې مشره ده؛ امير هم په افغنستان کي د اجراييه قوې مشرتوب پر غاړه لري. لکه د اينګلينډ محکمې او قضايي سستم چي د ملکې ويکتوريا په نوم عدالت چلوي دغه راز د افغانستان عدالت هم د امير په نوم چلېږي. مګر امير په خپله اداره کي تر ملکې ډېر زيات شخصي قدرت لري او په ډېرو کارونو کي له خپل شخصي قدرت څخه کار اخلي. البته په هغو ټولنو کي چي د انګلستان په څېر پر مخ تللي نه دي اداري سستم په دغه ډول وي.

منشي ليکي چي په پرمخ تللیو ټولنو کي دا نه منله کېږي چي دولت او مذهب دي سره ګډ وي. او هر څونه چي ملتونه پر مخ ځي په هغه اندازه مذهبي قوانين او دولت سره بېلېږي. تاريخ ښودلې ده چي په هر هيواد کي داسې يوه مرحله راځي چي هرکله خلک له نويو افکارو سره بلد سي نو بيا يوازي په هغو زړو قوانينو نه اداره کېږي چي د بشر د نوي پوهني له انکشاف سره نه جوړېږي.

منشي وايي د امير عبدالرحمن خان د قدرت په لومړيو شپو کي ملايانو په دولتي چارو کي ډېر زيات نفوذ او قدرت درلود؛ خو امير داسې فکر درلود چي مذهب او دولت په بشپړه توګه سره بېل کړي. ده تر هر څه مخکي هغه قوانين ختم کړل چي ملايانو جوړ کړي ول. ما مخکي ليکلي ده چي د حکومت د عايداتو ډېره زياته برخه د دغو ملايانو جېبونو ته تله او دا ځکه چي پاچاهان مجبور ول چي له ملايانو سره ښه اړيکي وساتي. د هيواد د بېسوادو او احساساتي غازيانو ډلي په بشپړه توګه د دوی تر کنټرول لاندي وې. په ډېرو زياتو ښورښونو او بغاوتونوکي، چي د امير قدرت يې په خطر کي اچاوه، همدغو ملايانو لويه برخه درلوده. ملايانو به خلکو ته ويل چي امير کافر دی او دوی بايد چي د ايوب خان ملاتړ وکړي. ملا مشک عالم او د هغه زوی به د امير په مقابل کي خلک لمسول. خو اوس هيڅ ملا دا توان نه لري چي د امير په مقابل کي عوام وپاروي. امير له ملايانو څخه قدرت سلب کړی دی. هغوی يې په محکمو او دفترونو کي مقرر کړي دي او تر ډېره ځايه پوری يې کوښښ کړی دی چي مذهب او دولت سره جلا کړي. PP 71-86

منشي وروسته ليکي هغه قانون چي د امير په دربار او د قاضي په محکمه کي چلېږي د اسلام پر قوانينو او د ټولني پر رواجونو ولاړ دی خو دا بايد ورسره زياته کړو چي د امير قدرت او صلاحيت سرحد نه لري. له هر چا سره چي دا انديښنه وي چي په ابتدايي محاکمو کي به سم عدالت ورسره ونه سي هغه کولای سي خپله عريضه مستقيماً امير ته ورلېږدي کړي.

منشي وروسته د افغانستان د پوځ په برخه کي د امير اصلاحاتو ته اشاره کوي او ليکي چي په افغانستان کي چنداني منظم عسکري نظام موجود نه وو او هر خان او ملک به د جنګ په وخت کي خپل نفر حاضرول او له هغوی سره به چي به هر ډول زړه وسله او توري او نېزې وې له هغو څخه يې کار اخيستی. تنخوا درک نه درلود او عسکرو به د خلکو په لوټلو ګوزاره کوله. امير شېرعلي خان د پوځ منظمولو ته توجه وکړه او يو منظم سستم يې جوړ کړ خو منظمو معاشونو بيا هم درک نه درلود او د انګليسيانو د سفير کيوناري د قتلېدلو او د دوهم جنګ د پيل کېدلو يو علت د عسکرو د تنخواوو ځنډېدل وو. امير عبدالرحمن خان نه يوازي پوځ منظم کړ بلکه د تنخوا سستم يې داسې تنظيم کړ چي هيڅ صاحب منصب او عسکر بې تنخوا نه پاتېږي.

دا بايد په ياد ولرو چي عصري اداره او دفتري سستم د امير عبدالرحمن خان په زمانه کي منځته راغله. منشي ليکي چي امير عبدالرحمن خان چي له وړوکوالي څخه عسکر وو او په پاخه عمر کي قدرت ته ورسېدی پخپله د اداري کارونو په تنظيم کي يو کمالداره سړی وو. هغه خپل ډېر وخت د اداري تنظيمولو ته ورکړ. په پخوا کي به ميرزايانو او حکومتي مامورينو په خپلو کورونو کي کار کاوه او د يوه کار اجراء کېدلو به هفته يا لس ورځي نيولې؛ ځکه چي مامورينو به له يوه بل څخه ليري کار کاوه. اميرعبدالرحمن خان حکومتي دفترونه جوړ کړل او د هري اداري مامورين په خپلو مربوطو دفترونو کي کار کوي او امير پخپله د هغوی د کارونو څارنه کوي. PP 90-110

منشي سلطان محمد وروسته د افغانستان د سياسي دريځ په باب په خلاصه توګه ليکي چي افغانستان يو مستقل هيواد دی. د هغه ګاونډيانو هم دا منلې ده چي هيڅ قدرت د هغه په داخلي چارو کی د مداخلي کولو حق نه لري. د افغانستان حکومت په هيڅ توګه د چا پوروړی نه دی او نه کوم هيواد ته د جنګ د تاوان په ورکولو مکلف دی. د برتانوي هند امپراطوری هم افغانستان د يوه مستقل هيواد په حيث پېژندلی دی او د هغه هيواد په داخلي چارو کي د هيڅ ډول مداخلې حق نه لري. برتانيه هغه ته، د سرمرتيمر ډيورنډ د ۱۸۹۳ کال د تړون په اساس، په کال کي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

۱۸ لکه کلداري ورکوي او امیر د هند د ویسرا په دربار کي استازی لري؛ او امیر حق لري چي د هر هیواد څخه چي زړه یې وغواړي هر ډول مواد او جنګي وسایل وارد کړي. منشي لیکي چي په عوض کي امیر له برتانیې سره ژمنه کړې ده چي د برتانیې د امپراطوری سره به دښمني نه کوي او له هیڅ خارجي هیواد سره به، د برتانیې د حکومت له مشورې پرته، روابط نه ټینګوي. د برتانیې حکومت په افغانستان کی استازی لري مګر هغه باید حتماً یو مسلمان وي. البته هغه موقف چي، د برتانیې استازی یې، د هند د راجا ګانو په دربارونو کي لري په کابل کی یې نه لري. د برتانوي هند استازي د هند راجاګانو ته امر کوي چي دغه یا هغه کار وکړي او یا یې ونه کړي په داسي حال کی چي په کابل کی د برتانیې استازی، پرته له عام دربار څخه، حتی د امیر د لیدلو اجازه نه لري او که ورسره ګوري نو باید چي اجازه او وخت واخلي. منشي وایی ځیني کسان پوښتنه کوي چي که افغانستان مستقل دی نو امیر یې ولي له برتانیې څخه ۱۸ لکه کلداري اخلي. جواب دادی چي امیر دا پیسې د هغي ژمني په بدل کي اخلي چي له برتانیې سره یې کړې ده چي د هغه هیواد له مشورې پرته به له نورو هیوادونو سره روابط نه ټینګوي. منشي وایي د خارجي هیوادونو سره د امیر د اړیکو دغه محدودیت په اصل کي د افغانستان په تاوان نه بلکه په ګټه دی ځکه چي د یوه کمزوري او وړوکي هیواد لپاره له خارجي هیوادونو سره تماسونه هغه هیواد ته تاوان رسوي.

منشي لیکي په تاریخ کي داسي ډېر مثالونه سته چي یوه پاچا بل پاچا ته کلنۍ پیسې یا سبسیډي ورکړې مګر د هغه هیواد خپلواکی ته یې تاوان نه دی رسولی. د مثال په توګه د اینګلینډ پاچا دوهم چارلس Charles 2 د فرانسې له پاچا څخه کلنۍ پیسې تر لاسه کولې او د برتانیې حکومت پخپله، په دې وروستیو وختونو کي، یو شمېر پاچاهانو او واکمنانو ته سبسیډي ورکوله. امیر څو ځله اعلان کړی دی چي تر څو پوري برتانیه له هغه سره پر خپله ژمنه ولاړه وي نو دی به هم د هغه هیواد د دوست او متحد په حیث پاته وي.

منشي لیکي چي برتانیه په خپل سر د امیر د دربار لپاره استازی نه سي ټاکلای بلکه د کاندیدانو یو لیست ورته را لیږي او امیر په هغو کي یو انتخابوي او هغه هم له دریو کالو څخه تر پنځو کالو پوري په افغانستان کي پاتېدلای سي او کله چي هند ته ستون سي نو هلته د نواب لقب ترلاسه کوي. منشي لیکي حتی کله چي د برتانوي هند حکومت د امیر په عنوان کوم لیک استوي منشي باید امیر ته د هغه لیک د سپارلو لپاره اجازه او وخت وغواړي.

منشي لیکی چي د هند وایسرا په دربار کي د امیر استازی هماغه، په کابل کي، د برتانوي هند د استازي موقف لري. او توپیر یې دادی چي د امیر د استازي د ماموریت وخت محدود نه دی بلکه دا په امیر پوري اړه لري.

منشي لیکي چي امیر پر دغه استازي برسېره په هند او اینګلینډ کي نور خصوصي تجارتي استازي هم لري. دغه راز د امیر او برتانوي هند تر منځ یوه بل ته د متخلفینو او مجرمینو د حتمي لېږلو کومه موافقه موجوده نه ده. PP 110-116

پاته لري


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ